


الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

# د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله

# مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

**د بغلان پوهنتون علمي او خپرنیز ارگان**

شماره مسلسل (۳۴ و ۳۵) بهار و تابستان ۱۴۰۳

**د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله**

**مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان**

شماره۱ و ۲ سال ۱۴۰۳، شماره مسلسل (۳۴ و ۳۵) دور۱۲

امتیاز خاوند: بغلان پوهنتون

مسوول مدیر: پوهندوی دکتور مهرالله مهر

مهتمم: پوهندوی امین الله فطرت(علوم اجتماعی) و پوهنیار محمد آصف شایق(علوم طبیعی)

دیزاین: مهر



هیات تحریر(کتنپلاوی):

| | |
|---|---|
| پوهاند دکتور نجیب الله قیوم | استاد پوهنځی ادبیات و علوم بشری |
| پوهنمل دکتور نجیب الله رحمتزی | استاد پوهنځی زراعت |
| پوهندوی امین الله فطرت | استاد پوهنځی ادبیات و علوم بشری |
| پوهندوی سید عزیزالله امین | استاد پوهنځی ادبیات و علوم بشری |
| پوهندوی طوره غیاثی | استاد پوهنځی تعلیم وتربیه |
| پوهندوی شفیق الله مشتاق | استاد پوهنځی تعلیم وتربیه |
| پوهندوی عبدالجلیل هاشمی | استاد پوهنځی ادبیات و علوم بشری |
| پوهندوی شیرین آقا اکبری | استاد پوهنځی زراعت |
| پوهنمل محمد طیب قورداش | استاد پوهنځی تعلیم وتربیه |
| پوهنیار محمد آصف شایق | استاد پوهنځی زراعت |
| پوهنیار عباد الله محقق | استاد پوهنځی تعلیم وتربیه |
| پوهنیار ضیا الرحمن ظهیر | استاد پوهنځی ادبیات و علوم بشری |



E-Mail: mehrullahmehr30@gmail.com
dr.mehr@baghlan.edu.af
Contact: **+93772242100**

بسم الله الرحمن الرحيم

**نحمده ونصلی علی رسوله الکريم!**
**اما بعد؛**

## د اسلام له نظره د څېړنې ارزښت او زموږ ژمنه

د کايناتو نړۍ له اسرارو او رازونو څخه ډکه ده، چې يوه ډېره کوچنۍ برخه يې د انسان په وسيله کشف شوې ده، حال دا چې ډېره ستره برخه يې لا هم همداسې بکره، مبهمه او ناڅېړل شوې پاتې ده. دا به ډېر خام فکر وي، چې ګني اوسني انسان د کايناتو له الفبا سره بشپړه اشنايي موندلې ده؛ بلکې حقيقت دا دی، چې انسان يوازې د دغه ستر سمندر تر هغو څپو رسېدلی، چې ساحل ته نږدې دي، د هغه د سترګو ليد يې ويني؛ خو تل او ژور موجونه يې لا هم په خپل مسير کې پټ او نا سپړلي روان دي.

که فکر وکړو د انساني بشريت د لارښوود اسماني کتاب قران کريم پيل په «إقراء» يا ولوله شوی دی، چې په ترتيب وروسته بيا د دې الهي کلام په سپېڅلو ارشاداتو کې انسانانو ته ويل شوي، چې: «قل انظروا ما فی السموات والارض و ما تغنی الايات و النذر عن قوم لا يومنون» دلته «قل انظروا» جمله هغه الهی امر دی؛ چې له څوارلس نيمو پېړيو را پدېخوا انسانان د ژوند او خپلې هستۍ په اړه کتنې څېړنې ته را بولي. زموږ د اوسېدو نړۍ، اسمانونه او ځمکې د يوې سيکې دوو مخونو ته ورته دي، چې يو يې ملکي اړخ دی، طبيعي قوانين او مادي اسرار دي، چې انسان يې د کشف او پلټنې په فکر کې دي؛ خو بل اړخ يې بيا په ربوبي مقام پورې پراخه تړلې هستي ده، چې بې ځانه او بې نظمه مادې ته يې نظم او ترتيب وربښلی دی او د دنيا له پيدايښت څخه تر ننه په منظم ترتيب چلېږي، چې انساني فکر يې لا هم په بشپړ کشف ندی توانېدلی.

څېړنه د اسلام له پيله تر نږدې څو وروستيو پېړيو پورې د اسلامي پوهانو يوه ستره مشغولتيا وه او تر دې حده په کې مخته تللي وو، چې کفري نړۍ ورته ګوته په غاښ پاتې وه او د دوی د څېړنېزو نوښتونو د پايلو انتظار به يې کاوه او ورته محتاج وو. د خوارزمي، محمد بن موسی، ابن سينا، سيد جمال الدين افغان او نورو عالمانو، مفسرينو او محدثينو څېړنيز اثار د دنيا د سترو کتابتونونو ښکلا ګڼل کېده. له څېړنې سره مينه او علاقه ډېره زياته وه او دې کار ته يې د يوه اسلامي امر په سترګه کتل. د ځمکې حرکتونه، د ستورو او ځمکې ترمنځ فاصلې او قوانين همدې اسلامي علمأوو کشف کړي وو؛ خو د وروستيو اسلامي نسلونو د بې غورۍ په سبب په سقراط، بطلميوس، فيثاغورث او نورو

پورې وتړل شول. شیخ طوسی، چې په اسلامي علماوو کې په شیخ الطائیفه مشهور و، په شپو شپو یې څېړنه کوله او سهار به د څېړنې په خوند کې دومره ډوب و، چې ویل به یې: « این الملوك و أبناء الملوك من هذه اللذة» یعني هغه لذت چې زه یې اوس د حقیقت له کشف وروسته احساسوم، پاچاهان او د هغوی اولادونه ورڅخه بې برخې دي.

خپله قران کریم او نبوي احادیث هم اسلامي ټولنه هره شېبه څېړنې او پلټنې ته رابولي او عمومي حکم یې دا دی، چې هېڅ شی له څېړنې او پلټنې پرته مه قبلوئ او له غورو څخه د غوره اقوالو پیروي وکړئ. د ځمکې او اسمانونو د لا ښې پېژندنې لپاره، چې نن غربیان کوم روښونه او فرضیې کاروي، دا په حقیقت کې د حضرت ابراهیم علیه السلام کړنلاره ده. «إني وجهت وجهی للذی فطرالسموات والارض حنیفا و ما أنا من المشرکین» یعني ما خپل مخ د هغه چا خواته کړ، چې ځمکه او اسمانونه یې پیدا کړي دي، په خپل ایمان کې خالص او له مشرکانو څخه نه یم.

دا چې یو مهال مسلمانانو له دې پیغام څخه سترګې پټې کړې، د ځمکې او اسمانونو په اړه له ساینسي څېړنو او پرمختګونو څخه بې پروا شول، دا د اسلام نیمګړتیا نه؛ بلکې د مسلمانانو ټنبلي او بې غوري وه، چې په دې توګه یې ډېر بدې تاریخي پایلې یې هم تجربه کړې.

قران کریم د اوسنیو او پخوانیو یا د بشر په تاریخ کې د ټولو علمي څېړنو تر ټولو دقیق او اصلي ماخذ دی؛ ځکه خو د هر ډول څېړنو د سرچینو په فهرست کې لومړی ځای لري. په قرانکریم کې د علم کلمه اتیا ځله له خپلو مشتقاتو سره تکرا رشوې ده او دا یې د پوښتنې په توګه مطرح کړې، چې آیا عالمان او ناپوهان سره برابر دي؟ همدا تفاوت د علم او عالم پر اهمیت د ټینګار لپاره دی.

څېړنه د علم پالنې د ژوندي پاتې کېدو لاره ده، په همدې سبب علم او علمي څېړنې یو له بل سره نه جلا کېدونکي دي، عالمان د أنبیاءکرامو علیهم الصلوات وتسلیم وارثان بلل شوي او علم ته یې محمد صلی الله علیه وسلم د ګران بیه او معنوي میراث په سترګه کتلي دي.

د افغانستان اکاډمیک او تحصیلي مرکزونه، چې د ځوان نسل د اسلامي او مسلکي روزنې ستر مسوولیت ور په غاړه دی، له شک پرته چې د علمي میراث د ساتنې او انتقال چاره یې هم له سترو مسوولیتونو ګڼل کېږي. که چېرته په پوهنتونونو کې علمي او مسلکي څېړنې موجودې نه وي او استادان خپل دغه علمي مسوولیت ته ځیر نه شي، بیا نو طبیعي ده، چې د علمي فقر او احتیاج له مهلکې ناروغۍ سره مخ کېږي، چې دا فقر بیا تر اقتصادي فقر سل چنده خطرناك او اسلامي ټولنه د اشغال او استعمار کندې ته غورځوي.

د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزیر شیخ صاحب ندا محمد ندیم همېشه په علمي او اداري ناستو کې پر دې ټکي ټینګار کړی، چې د پوهنتونونو ښاغلي استادان باید خپل وخت له څېړنې پرته تېر نه کړي او په دې برخه کې یې د دوی د هر ډول مالي او مادي لګښتونو ته ملا تړلې، چې په تېرو څو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو پوهنتونو کې د علمي – څېړنیزو کنفرانسونو په دایرولو سره دا مدبرانه ژمنه ثابته کړې هم ده. که څه هم زموږ زیاتې څېړنې کتابتوني ډول لري؛ خو علمي ژورنالونه او مجلې هم د موضوعي تنوع او رنګارنګۍ په سبب د څېړنیزو مقالو او موندنو د خپرولو غوره وسیلې دي. له نېکه مرغه بغلان پوهنتون هم د دې ویاړ لري، چې د ټولنیزو علومو او انجنیري علومو په برخه کې د ځانګړي علمي ـ څېړنیز ارګان لرونکی دی. بغلان پوهنتون په دې برخه کې د بشپړې اکاډمیکې ژمنتیا تر څنګ علمي څېړنې کول د خپل اسلامي تاریخ میراث او علمي مسوولیت ګڼلی دی او دا کوښښ یې کړی، چې د خپلې ژمنې پر بنسټ د دواړو ژورنالونو پاڼې د ښاغلو استادانو په علمي څېړنو او موندنو رنګینې او وزمینې وساتي.

درنښت

مولوي صدیق الله خالد منصور

د بغلان پوهنتون رئیس

بسم‌الله الرحمن الرحیم

**نحمده ونصلی علی رسوله الکریم!**

## نگاهی بر چیستی علم؛

محققان و دانشمندان، علم را به شیوه‌های گوناگون تعریف می‌کنند. برخی علم را تکلیف آبرومند می‌دانند، عده‌ی آن را به معنای اساس معرفت حقیقی می‌گیرند و  برخی آن را به معنی بررسی عینی پدیده‌های تجربی می‌دانند. اولین مشکل در تعریف علم ناشی از خلط محتوای علم با روش شناسی آن است، علت اینکه دانشمندان شاخه‌ای از معرفت را به عنوان علم نمی‌پذیرند، اغلب به سبب روش شناسی آن است. محتوای علم پیوسته تغییر می‌کند و علم جزء یا کلیتی از معرفت نیست؛ علم به علت روش شناسی آن از هر نوع معرفت متمایز می‌گردد. به این دلیل، سعی بر آن است کلمه‌ی علم به معنی مجموعه‌ی معرفت گردآوری شده با استفاده از روش شناسی علمی تعریف گردد.

برخی باور دارند که واژه علم در زبان‌های فارس و عربی در دو معنی متفاوت به کار برده می‌شود؛ معنی اصلی و نخست علم، دانستن در برابر نداستن است و به همه دانستنی‌ها، صرف نظر از نوع آنها علم می‌گویند. کلمه‌ی علم در معنی دوم منحصراً به دانستنی‌هایی اطلاق می‌گردد که بر تجربه مستقیم حسی مبتنی باشد. علم در این تعبیر در برابر جهل قرار نمی‌گیرد؛ بلکه در برابر همه دانستنی‌هایی قرار می‌گیرد که آزمون پذیر نیستند.

علم در زبان‌های فرانسوی و انگلیسی معادل واژه "Science" است و از کلمه "Scientio" لاتین به معنی دانستن مشتق گردیده است. علم در لغت به معنای یقین، معرفت و دانش است. واژه علم در مفهوم کلی خود به هر نوع آگاهی نسبت به اشیاء، پدیده‌ها و روابط بین پدیده‌ها اطلاق می‌گردد که معادل کلمه‌ی "Knowledge" می‌باشد. اما علم در معنی خاص معادل کلمه‌ی "Science" است و مقصود از آن بخشی از دانستنی‌ها و آگاهی‌های بشر است که به روش تجربی تایید شده باشد. در کل، دانش علمی مبتنی‌بر انباشت شواهد علمی و تجربی است.

از علم تعریف و برداشت‌های متعددی ارایه شده است:

- علم زاده‌ی ادراکات دقیق است که ناشی از واقعیت‌ها می‌باشد؛
- علم عبارت از تراکم سیستماتیک اطلاعات است و یا اینکه علم روش شناخت حقایق تعریف می‌شود؛

- علم به دانستنی‌های قابل اثبات تلقی می‌شود؛
- علم معرفتی است منظم که با روش‌های معین به دست می‌آید که روابط پایدار میان پدیده‌ها و واقعیت‌ها و قوانین حاکم بر آن را بیان می‌کند.

چنان‌که مبرهن است، هویت علمی هر نهاد اکادمیک به فعالیت‌های تحقیقی و نشراتی اعضای کادر علمی آن وابسته است که با تولید دانش جدید بتواند در انکشاف و توسعه پایدار و خودکفایی جامعه رسالت خویش را اداء نماید. دست‌اندرکاران مجله علمی – تحقیقی پوهنتون بغلان افتخار دارد که پس از ثبت مجدد این ژورنال داخلی در سال (۱۴۰۲)، با توجه به پالیسی‌های علمی – نشراتی پوهنتون بغلان و ریاست محترم تحقیق، تألیف و ترجمه وزارت تحصیلات عالی، شماره‌های ( ۳۴ و ۳۵) مجله علمی – تحقیق را به زیور چاپ می‌رساند. از آنجایی که حوزه‌ی فعالیت مجله علمی – تحقیقی پوهنتون بغلان معطوف بر ساحت‌های علوم اجتماعی و علوم طبیعی است، در این شماره‌ها حتی‌المقدور سعی به‌عمل آمده است تا مقاله‌های علمی – تحقیقی کابردی که بتواند به نهادهای امارتی بخصوص جهت رشد و توسعه جامعه پیام‌های روشن و علمی را ارائه نماید، در نظر گرفته شد ه است.

در پایان جا دارد از تلاش‌های مجدانه رهبری پوهنتون بغلان و رهبری وزارت محترم تحصیلات عالی، بخصوص از ریاست تحقیق، تألیف و ترجمه بابت ثبت مجدد و اعطای جواز " مجله علمی تحقیقی" به پوهنتون بغلان، سپاسگزاری نمایم و هم‌چنان از فعالیت‌های سازنده‌ی مسئولین مجله علمی - تحقیقی و استادانی که با تهیه و نشر مقاله‌های علمی در این شماره سهم فعال گرفتند، ابراز تشکر کنم.

با احترام

پوهندوی امین الله فطرت

معاون تحقیقات علمی پوهنتون بغلان

## لیکلړ/ فهرست


| سرلیک / عنوان | لیکوال/ نوسینده | مخگنه |
|---|---|---|
| بررسی میزان اثرگذاری بیلانس تجارت بر رشد اقتصادی در افغانستان | پوهنیار سخی بخش اسدی و همکاران | ۱ |
| بررسی قدرت جوانه‌زنی ارقام مختلف برنج با استفاده از روش هدایت الکتریکی | پوهنمل نثاراحمد قاصانی و پوهنیار سید مقدس شرف | ۱۹ |
| حل عددی معادلۀ پارابولیک معکوس زمان-کسری با استفاده از روش مربعات دیفرانسیل پولینومی | پوهندوی دکتور مهرالله مهر | ۳۱ |
| بررسی اختلال وسواس فکری وعملی وراه‌های درمان آن | پوهنیار خدیجه محمدی | ۴۷ |
| د مهرباني وژنې شرعي حکم | پوهندوی ډاکټرعبدالواحد لیاقت | ٦۴ |
| عواقب ناگوار ترک امر به معروف و نهی از منکر | پوهنمل محمد هارون غازی زاده | ۷۹ |
| بررسی مفهوم امنیت ملی از دید جغرافیای سیاسی | پوهنمل وحدت واحدی | ۹۳ |
| د هنري پنځونو د روان او تفسیر زاویې | پوهندوی گل رحمن رحماني | ۱۰۳ |
| تحلیل انتقادی گفتمان اشعار باختری در دهه‌ی پنجاه با رویکرد نورمن فرکلاف | پوهنمل دکتور محمد شاپور قادری | ۱۱۳ |
| دیترمینانت رونسکی و کاربرد آن در معادلات دیفرانسیل‌خطی مرتبه n اُم | پوهندوی دکتور عبدالحسین‌سروش | ۱۳۹ |
| عوامل مؤثر بر تقویت ملت سازی در افغانستان | پوهنمل الله محمد حازم | ۱٦۵ |
| د ادراکي ژبپوهنې له نظره د پښتو وییکو څو مانیز توب | پوهنوال نصیراحمد طاهري و مسعود حسن زی | ۱۷۷ |
| دالله تعالی له وېرې د ژړا أهمیت د قرآن او احادیثو په رڼا کې | پوهنیار احمد عارف شهیر | ۱۸۹ |
| د الفت په اشعارو کې ټولنیزه بیداري | پوهندوی عبدالجلیل هاشمي | ۱۹۹ |
| الحداثة في الأدب الأندلسي و المهجر | پوهندوی وحیدالله جمال و پوهنوال محمد عزیز فیض | ۲۱۱ |
| افغانستان اۋزبېك لر اتنیکی نینگ شکلله نیشی و تاریخی کېلیب چقیشی | پوهنیار قمرالدین شریفی | ۲۲۵ |